# اولسي شاعر شاه جهان چشتي ژوند او د هغه چاپ کتابونه

**A Study of the Published books of Shah Jahan Chishti: A Poet of Folk poetry**

ډاکټراصل مرجان( محیب وزیر)*
مدثر احمد یوسفزی♦

**Abstract:**

Mawlana Shah Jehan Chishti alias "Abul Bayan" was born in Yousufzai tribe at Bala Gharai in Saeedullah's house in 1938. He was born and raised in Gadoon sub-tribe of the Yousufzai land. Shah Jehan was a religious person and acquired all the relevant Islamic knowledge regarding Islamic jurisprudence. Along with Islamic knowledge, he was a prolific poet in Pashto literature. In connection with this, he was assigned the title of "Abul Bayan".The contents and themes of his poetry visibly reflect the broader concept of humanity, love and spiritualism. He wrote about multiple genres of poetry along with the compilation of Islamic Nattiya poetry (Poetic verses regarding the personality of the holy prophet PBUH). He published almost 15 books of poetry in Pashto literature and numerous are still unpublished. The current research study is focused on the Shah Jehan Chishti's published poetic materials and manuscripts to analyze its technical and intellectual worth in a critical way.

**Keywords:** Shah Jehan Chishti, Abul Bayan, Bala Gharai, prophet PBUH.

**د شاه جهان چشتي لنډه شان پيژندګلو**:

"د مردان د سيمې اولسي شاعر مولانا شاه جهان چشتي يو ډېر ځيرک او قادرالکلام شاعر تېر شوی دی چې د "ابو البيان" خطاب ورکړی شوی وۀ ـ ښاغلی مولانا شاه جهان چشتي په کال نورلس سوه اتۀ دېرشم عيسوي کښې د يوسفزيو په علاقه بالاګړۍ کښې د سعيد الله په کور کښې پېداشوی وۀ". (1)

"د دوي تعلق قبيله ګدون سره وۀ ـ دوي د حضر زی ( منصور ) د سترګو رڼا وه په کال ۱۹۳۲ء کښې د اسدالله جان کره په بالاګړۍ ( کلي) کښې پېدا شوی وۀ".(2)

خو "د مردان شخصيات" نومې کتاب کښې يې د زېږون کال ۱۹۲۸ درج ده".(3)

لکه څنګه چې مو ولوستل د زېږون نېټې په حقله يې ګڼ محققين تېر وتي دي ـ ګل اسلام يې ۱۹۳۸ء ، ضياءالله خان يې ۱۹۳۲ء ،"د مردان شخصيات " نومې کتاب يې هم ۱۹۳۲ء ، ابراهيم رومان يې

* Assistant Professor/Director, Pashtoonkhwa Mutaleati Markaz, University of Bacha khan, Charsadda
♦ M.Phil Scholar, Pashtoonkhwa Mutaleati Markaz, University of Bacha khan, Charsadda

۱۹۴۰ء او محترم سید اکبر یې ۱۹۳۶ء ښائي. او دغې نه علاوه محمد حفیظ قادري ئې د زېږون نېټه ۱۹۳۲ ښائي.او د قبر په مزار ئې د پېدائش کال ۱۹۴۱ء لیکلې شوی دی.
د ټولو نه مستند د زېږون نېټه ۱۹۳۶ء ده کومه چې د هغوي په شناختي کارډ کښې درج ده. دغو کښې صرف د سید اکبر حواله درسته ده. د دغې ثبوت په بنیاد د محققینو حوالې رد کولی شي. دې نه علاوه د شاه جهان د پلار نامه کښې هم تېر وتنې شوې دي. ضیاء الله خان ئې د پلار نامه اسد الله جان ، ګل اسلام ئې سعیدالله جان او محمد حفیظ قادري یې سعدالله بابا ذکر کوي. خو د شاه جهان د پلار نامه سعد الله خان وه او په کلي کښې د سعدالله باباپه نامه مشهور وۀ چې یو ښۀ شاعر هم وۀ.
د شاه جهان کلی بالاګړې وۀ چې د شهبازګړې سره خوا کښې دی بلکې د شهبازګړې او بالاګړې تر مینځه فاصله صرف د یوپل ده. په قام پښتون وۀ او ګدون قبیلې سره ئې تعلق لرلو. ابتدائي زده کړه یې د خپل کلي د مدرسو نه حاصله کړه او بیا لنډی شاه کاټلنګ ته د نورو علومو زده کولو د پاره لاړ او چې په دغه علم ئې تنده ماته نۀ شوه نو بیا شاه منصور ته لاړو او هلته نه ورته د فراغت سند ورکړې شۀ. په دې حواله محترم ګل اسلام وائي چې :

> " ابتدائي دیني کتابونه ئې د خپل کلي خواشاء مدرسو کښې ؤلوستل او چې زلمی شۀ نو دارالعلوم کاټلنګ ته د علم حاصلولو د پاره لاړو هلته د مشهور دیني عالم مته مولوي صېب نه یې فېض واخستو اوبیا د دورې د پاره دارالعلوم شاه منصور ضلع صوابۍ ته لاړو ، دمولانا عبد الهادي صېب نه یې د فراغت سند تر لاسه کړو- " (4)

شاه جهان که هر څو مذهبي سړی وۀ خو ولې په پښتو ژبه او پښتون قام ډېر مئېن وۀ. شاعري ئې د وړوکوالي نه شروع کړې وه. کۀ په ممبر ئې د خلقو اصلاح کوله نو د شاعرۍ په ذریعه ئې هم خلقو ته د انسانیت ، د اتفاق و ورورولۍ او خپلو کښې د محبت او مېنې کولو درس ورکړی دی. د دغې نه علاوه ئې په باقاعده توګه څو تنظیمونه د نورو ملګرو په مرسته قامي خدمت د پاره جوړ کړي وو. دشاعري رنګ یې اولسي دی. او د جدت رنګونه هم لري. ژبه ئې ډېره آسانه روانه او عام فهمه ده. ډېر خوږ ترنمه هم وۀ. د رېډیو پاکستان نه ئې ډېر کلامونه نشر شوي دي. د سیاست په مېدان کښې ئې که هر څو د جمعیت سره تعلق لرلو خو ولې د باچا خان ( عبدالغفار خان ) د تحریک نه هم ډېر متاثره وۀ. او په باقاعدګۍ سره ئې د هغوي جلسو کښې شمولیت هم کړی دی. او دا خبره به یې کوله چې زۀ د باچا خان جلسو له به حېثت د یو پښتون ځم. شاه جهان لکه بره ذکر وشو چې په پښتو ژبه ډېر بې کچه مئېن وۀ او هم دغه وجه وه چې په خپل وخت کښې یې اتلس کتابه ؤلیکل او چاپ یې کړل او دوه کتابه یې ناچاپه پاتې شول. ژوند ورسره وفا ونۀ کړه ګنې نو دغه دوه کتابه یې هم چاپ کول. او بیا نه ئې خو ځامنو دغه جرات کړی دی او نۀ بل چا ، چې دغه ناچاپه مواد ورله چاپ کړي. دغه په قام مئېن شاعر چې د ابوالبیان په نامه یادېدو د بېمارو د لاسه په ډېر کم عمرۍ کښې د دې فاني دنیا نه

د ډېرو ارمانونو سره کډه ؤنغاړله او په ۲۵ مئي کال ۱۹۸۲ء کښې رخصت شۀ او د بالاګړۍ په لویه مقبره کښې تورو خاوروته ؤسپارلی شۀ .

**د شاه جهان چشتي چاپ کتابونه** :

د شاه جهان چشتي چاپ کتابونه اتلس دي چې پکښې اوولس منظوم او یو نثر کښې دی ، دلته د دغه کتابونو لنډه شان پېژندګلو کولی شي.

(۱) **سوه ارمان** :

د شاه جهان وړومبی چاپ منظوم کتاب " سوی ارمان " دی چې په ۴ ستمبر ۱۹۶۳ء کښې منظورِ عام پرېس پېښور نه شائع شوی دی. چې پکښې حمد ، نعتونه ، نظمونه او رباعیانې دي. او یوه بدله د حضرت علي رضي الله عنه په حقله بیان شوې ده . موضوع ئې مذهبي ، اخلاقي ، اصلاحي او انسان دوستي ده. د شاعرۍ رنګ ئې اولسي دی. دلته څو شعرونه اصلاحي وړاندې کولی شي :

نن چې ګورمه شو کم محبتونه
وجه ئې دا ده چې خراب شو ټول نیتونه
مشران کشران یو شان شي بللی
بعضو بعضو خپل خراب کړل عزتونه
عاجزانو باندې زور او ظلم کېږي
پاکه ربه عجیبه راغلل وختونه(5)

(۲) **اصلاح المسلمین** :

د شاه جهان بل منظوم کتاب اصلاح " المسلمین " په ۵ مئي ۱۹۶۶ء کښې پېښور منظورِ عام پرېس نه چاپ شوی دی. محمد الیاس (ګړي کپوره) ئې پرې لنډه شان سریزه لیکلې ده . دغه کتاب کښې هم حمد ، نعتونه ، نظمونه رباعیانې دي. او یوه سپاسنامه د کاټلنګ د خپل استاد په حقله لیکلې ده. د کشمیر په حالاتوئې یوه ترانه هم وئیلې ده. موضوعات ئې مذهبي،اخلاقي او اصلاحي دي.

څوک چې بد عمل کړي د هغه د پاره اور اور دی
غم د آخرت ؤکړه پاتی درنه کور کور دی
غم د آخرت ؤکړه پاتی درنه دا جهان دی
قرآن کښې آیت ګوره كُلُ مَن علیها فَان دی (6)

(۳) **عمیق البیان** :

د شاه جهان بل منظوم کتاب د " عمیق البیان " په نوم د پېښور منظورِ عام پرېس نه په ۵ ستمبر ۱۹۶۹ء کښې چاپ شوی دی. دې کتاب کښې هم حمد ، نعتونه ، نظمونه او رباعیانې وئیلې شوې دي یوه مرثیه د کربلا د مېدان او دوه قیصې یوه د حضرت خباب رضي الله عنه د ایثار او دویمه د

حضرت فاطمه رضي الله عنها ذکر شوې دي ـ موضوعات ئې اصلاحي او مذهبي دي ـ او د تصوف رنګونه پکښې هم شته لکه دې شعر کښې وائي چې :

ستر ګې بینا کړه چې ګلونه د عرفان اووینې
د زړۀ آئینه دې آئینه کړه چې خپل ځان اووینې (7)

عشقیه شعرونه ئې هم وئیلي دي لکه دې شعر کښې وائي چې :

شاه جهان وائي د زړۀ مې خدای خبر دی
د جانان غم کښې مې زړۀ هر زمان سوزي (8)

(۴) **جدید الاوزان** :

د شاه جهان چشتي بل منظوم کتاب د پېښور منظورِ عام پرېس نه پۀ اکتوبر ۱۹۷۰ء کښې د" جدید الاوزان " په نامه شائع شوی دی ـ دې کښې هم حمد ، نعتونه ، نظمونه ، رباعیانې دي ـ مصرعې پکښې هم راوړلې شوې دي ـ دوه واقعې د بدلې په شکل کښې بیان شوې دي خو د بدلې کړۀ وړۀ پوره نۀ لري ـ دواړه واقعات د حضرت محمد صلی الله علیه وسلم په حقله دي ـ او یوه سپاسنامه باباجي جلال الدین ( د نوي کلي لوی استاذ ) ته وړاندې شوې ده ـ موضوعات ئې مذهبي او اصلاحي دي او د قومیت رنګ پرې هم غالب دی ـ شاه جهان چې په کوم دور کښې ژوند کولو نو په دغه وخت کښې معاشره د ډېرو ستونزو او خرابیانو سره مخ وه په دې وجه شاه جهان ډېرو شعرونو کښې کۀ یو اړخ ته د دغه خرابیانو غندنه کوي نو اصلاح ئې هم کړې ده ـ شاه جهان هغه خلقو ته خبرې هم کوي څوک چې دوه کسه خپلو کښې جنګوي لکه دې شعرونو کښې وائي چې :

چې دوه تنه جنګوي په کورنۍ کښې
دۀ نه نشته په دنیا کښې بل منحوس
قدردان ته چې په بد نظر څوک ګوري
رب دې ورک کړي په دنیا دغه دووس (9)

(۵) **د حق اواز** :

د شاه جهان بل منظوم کتاب په ۲۱ جون ۱۹۷۰ء کښې پېښور منظورِ عام پرېس نه " د حق آواز" په نوم چاپ شوی دی ـ دې کتاب کښې نعتونه ، رباعیانې او نظمونه دي ـ موضوعات ئې مذهبي ، اخلاقي او اصلاحي دي ـ شاه جهان د قام نااتفاقۍ ، بې وسۍ او بدې ورځې دردولی دی ـ تل به ئې لارو کوڅو او حجرو کښې دغه یوه خبره کوله چې ای پښتنو وروڼو! خپلو کښې جنګ جګړې ختمې کړئ ، وروروليِ جوړه کړئ ، د کرکو په ځائې یو بل له مینه ورکړئ ـ شاه جهان دې شعرونو کښې د قام بې اتفاقۍ او مطلب پرستۍ په حقله څۀ په دا رنګ وائي چې :

ربه نن بې اتفاقه مسلمان شو
د يو بل مرګ پسې ګرځي کار يې وران شو
نن دقام اصلاح د پاره مشر نشته
هر بنده مطلب پرسته په جهان شو(10)

(۶) **خوږه مينه** :

دا هم منظوم کتاب دی په جون ۱۹۷۱ء کښې د پېښور منظورِعام پرېس نه چاپ شوی دی. دغه کتاب کښې حمد ، نعتونه ، رباعيانې ، نظمونه او دوه قيصې چې د بدلې په شکل کښې راوړلې شوې دي خو د بدلې چې کوم فني لوازمات دي په هغې پوره نۀ دي. د دغه کتاب موضوعات اصلاحي او مذهبي دي. دغه رنګ مجازي او عشقِ حقيقي شعرونه پکښې هم شته دی. د مجاز نه بغېر حقيقت ته رسېدل ګران دي. مجاز د حقيقت اولنۍ پوړۍ ده. لکه دې شعرونو کښې شاه جهان خپله وائي چې

اول عشق په دنيا کړه د مجاز
شې به هله حقيقت کښې سرفراز
حقيقت چل په مجازکښې زده کېدی شي
ځان خبر کړه خاص د دې عشق په راز (11)

د مجاز په حقله يې دلته نور شعرونه د نمونې په توګه وړاندې کولی شي :

ښکلي خوښ دي چې يې ښکل کړمه زۀ
بيا ئې يو ځائی کړم د لاسونو سره
شونډې چې کېدم د اشنا په شونډو
غماز حېران کړم دې کارونو سره (12)

شاه جهان چې په مجاز کښې ښۀ ټکرې خوړلې دي نو په حقيقت خپله پوهه شوی دی لکه دلته خپله وائي چې :

خلق وائي په ټکرو عقل زده شي
شي هوښيار چې هغه څوک وخوري ټکرې (13)

د شاه جهان د شاعرۍ رنګ که هر څو اولسي دی خو د جدت رنګونه ئې هم خپل کړي دي لکه دا شعرونه ئې ولولئ :

يمه عادت د طوفانونو سره
د يار درنو غمونو سره
بيلتونه څۀ له خوشحالۍ کوې تۀ
وروستو راحت وي تکليفونو سره
حورې ، غلمان پرې پسخوم د جنت
هيڅ کار مې نشته جنتونو سره (14)

(۷) **جمالِ محمدي** :

دا هم منظوم کتاب دی ـ په جون ۱۹۷۲ء کښې منظورِ عام پرېس پېښور نه شائع شوی دی ـ دې کتاب کښې حمد ، نعتونه ،رباعيانې او مصرعې دي او يوه قيصه د يو ماشوم چې بې دينه وي او اسلام قبول کړي ـ سره د وهلو ، ټکولو باوجود اسلام نۀ پرېږدي ـ موضوعات ئې مذهبي ، اصلاحي او اخلاقي دي او د تصوف اړخ پکښې هم څرګند دی ـ شاه جهان به پۀ مصرعو جوړولو او وئېلو خپل غم کمولو ـ دلته يې څو مصرعې وړاندې کولی شي :

زۀ په مرض ناجوړه نۀ يم
تاؤ کړي غشي مې په زړۀ خوړلې دينه
طبيب په رنځ مې نۀ پوهېږي
کۀ مې اشنا ؤکړه پوښتنه جوړ به شمه
مرګ به مې غوره د ژوندون شي
چې په جولۍ کښې د جانان مې ساه وځېنه (15)

(۸) **انجامِ عشق** :

د اولسي شاعر شاه جهان بل منظوم کتاب " انجامِ عشق " د پېښور منظورِعام پرېس نه په اګست ۱۹۷۲ء کښې چاپ شوی دی ـ دې کتاب کښې حمد ، نعتونه ، رباعيانې او مصرعې دي او يوه چاربېته او دوه مذهبي قيصې پکښې هم ذکر شوې دي ـ موضوعات ئې اصلاحي ، مذهبي اوعشقيه دي ـ دلته ئې عشقيه څو شعرونه وړاندې کولی شي :

څومره چې آشنا لري اثر په خپلو سترګو کښې
نۀ وېنمه دا رنګې د نورو ښکليو سترګو کښې
قربان شم داسې سترګو نه زړۀ يې رانه وړيدی
زړۀ مې مبتلا وي د هغې مغلو سترګو کښې (16)

(۹) **عجيبه شاعر** :

د شاه جهان ابوالبيان بله شعري مجموعه " عجيبه شاعر " په نوم پېښور منظورِ عام پرېس نه اکتوبر ۱۹۷۴ء کښې چاپ شوه ـ دې کتاب کښې هم حمد ، نعتونه او رباعيانې دي ، يوه سپاسنامه قاضي نقي الدين ته وئيلې شوې ده او يوه مرثيه د گل بادشاه په غم ليکلې شوې ده ـ موضوعات ئې اصلاحي ، اخلاقي او مذهبي دي ،د تصوف نه علاوه د قوميت رنګ پرې هم غالب شوی دی ـ شاه جهان ډېر شعرونه اصلاحي وئيلې دي لکه دا شعرونه يې ولولئ :

شر پسند کۀ مشران وي ورک دي شي
چې بد خواه د مسلمان وي ورک دي شي
چې اصلاح د دوؤ تر مينځ کولی نۀ شي
که بادشاه د کُل جهان وي ورک دي شي
چې همېش ئې رعيت د لاسه تنګ وي
که په قام داسې سلطان وي ورک دي شي
خوار غريب ته چې په لار کښې کندې کني
د رشوت که ممبران وي ورک دي شي (17)

لکه بره ذکر وشۀ چې شاه جهان ډېر شعرونه او اصلاحي وئيلې دي د هغې وجه دا وه چې په هغه وخت کښې که يو خوا د ملک حالات خراب وو نو بل خوا په عامو خلقو کښې پوهه او شعور هم ډېر کم وۀ ، جهالت وو ، حجرو کښې جوارۍ ، مرازان جنګول ، خپلو کښې جنګ جګړې عام وې ـ دشمنۍ تربګنۍ کور په کور وې ـ شاه جهان که يو اړخ ته حجره په حجره ګرځېدلی دی خلقو ته ئې وعظ و نصيحت کړی دی د بدو ردو نه ئې منع کړي دي نو په شاعري کښې ئې هم دغه اړخ ډېر جوت دی ـ شاه جهان د رحمان بابا په شان په انسانيت مئين وۀ ، د کُلهم انسانيت د پاره ئې خبر غوښتو ، خلق ئې د بدو نه غندل او اصلاح ئې کوله ، د امن راوستو هڅه يې کوله او د سرمايه دارو تل په ضد پاتې شوی دی ـ

(۱۰) **ننداره** :

د اولسي شاعر شاه جهان بله شعري مجموعه " ننداره " د پېښور غني سنز پرنټرز نه په جون ۱۹۷۵ء کښې شائع شوه ـ دې کتاب کښې هم حمد ، نعتونه ، نظمونه او رباعيانې دي ـ دوه اسلامي واقعات منقبت په شکل کښې بيان شوې دي او د کتاب موضوعات اخلاقي او اصلاحي دي ـ د شاه جهان د شاعرۍ لويه خوبي دا ده چې هغه د امروزې ، محاورې او د متل استعمال په خپله شاعرۍ کښې ډېر کړی دی ـ ځکه خو د هغوي شاعرۍ په عام اولس کښې ډېر مقبوليت موندلی دی ـ

چې په کوم يو کار کښې ګڼ وي مشران
هغه کار به هېچرې نۀ شي ودان
پکښې هر يو به کړي خپله رايه مخکښې
حل به نه شي د چا رائی پۀ هيڅ شان (18)

(۱۱) **صفت الحبيب** :

د شاه جهان بل منظوم کتاب "صفت الحبيب" دی چې د پېښور حمديه پرېس نه جولائي ۱۹۷۷ء کښې چاپ شوی دی. دې کتاب کښې هم حمد ، نعتونه ، رباعيانې او دوه مذهبي واقعات راوړلې شوې دي. موضوعات ئې مذهبي او اصلاحي دي. دې نه علاوه شاه جهان د انسان دوستۍ په حقله هم وئيل کړي دي. شاه جهان کۀ د ترقي پسندۍ ډلې سره وابسته نۀ وۀ خو فکر او سوچ ئې ترقي پسند لرلو لکه دا شعر ئې د نمونې په توګه دلته وړاندې کولی شي :

اې د غټانو زوره ورو ربّه!
چرته کښې لاړ شي غريبان مالکه (19)

لکه بره ذکر شوی دی چې د شاه جهان په شاعرۍ کښې د متلونو ، محاورو او د روزمرې ډېر خيال ساتلی شوی دی. او دا د لوې شاعر خوبي وي. د رحمان بابا د شاعرۍ د مقوليت راز هم دغه دی چې هغه د متل او د محاورې استعمال ډېر کړی دی. د شاه جهان په دغه حواله دلته څو شعرونه وړاندې کول ضروري ګڼم :

چې هوښيار وي په يوه خبره پوئې شي
نادانان په حقيقت پوهېږي نه(20)

نن کۀ ښۀ چا سره ؤکړې هغه بد شي
کۀ خوږه خپله دوستي وي هغه ردّ شي (21)

سړی ؤګوره اول نو بيا ئې دوست کړه
اول ګوره چې چغزی دی که متاک (22)

(۱۲) **د صبر ټُوره** :

دا شعري مجموعه د پېښور منظورِ عام پرېس نه چاپ شوې ده. چاپ کال نۀ لري. خو تقريباً ۱۹۷۳ء خواشاء کښې به چاپ شوې وي. د کتاب شروع کښې فضل واحد د شاه جهان د شاعرۍ په حقله خبرې کړې دي. دې کتاب کښې حمد، نعتونه ، نظمونه ، رباعيانې مناجات اومصرعې دي.

موضوعات ئې مذهبي ، اخلاقي او سياسي دي د قوميت رنګونه پکښې هم شته دی لکه د نظم يوشعر ئې دلته وړاندې کولی شي :

قومونه غېږ په يو آواز په ترقۍ وينمه
پښتون په يوکور کښې پارټۍ پارټۍ وينمه (23)

شاه جهان که هر څو عالم فاضل او مذهبي سړی وۀ خو ولې زړۀ ئې د غوښې لرلو ، دوي هم په شروع کښې د مجازي عشق پياله نوش کړې وه لکه دا شعرونه ئې ولولئ :

ما خو وې چې به وفا راسره ؤکړې
ولې څۀ ؤکړمه خدايه بې وفاشوه
وفائي د معشوقو په باب کښې نشته
شکر شکر چې معلومه راته دا شوه
په دُنيا کښې امتحان عجيبه شی دی
رامعلومه امتحان کښې دلربا شوه (24)

(۱۳) **د صداقت اعلان** :

د شاه جهان بله شعري مجموعه " د صداقت اعلان " د منظورِ عام پرېس پېښور نه چاپ شوې ده . چاپ کال نۀ لري . په دې کتاب هم فضل واحد سرېزه ليکلې ده . دې کتاب کښې هم نظمونه ، نعتونه او رباعيانې دي . د شاه جهان سياسي فلسفه هم دې کتاب کښې وړاندې شوې ده . شاه جهان عالم فاضل او مذهبي سړی وۀ دې وجې نه ئې جمعيت علمائے اسلام پارټۍ سره تعلق لرلو او غوښتل ئې چې په ملک کښې دې قرآني نظام نافذ شي :

خبر دې په نعرو زمونږه ټول مسلمانان شي
غواړو پاکستان کښې چې قانون دې د قرآن شي (25)

(۱۴) **ګلزار** :

دا منظوم کتاب هم د منظورِ عام پرېس پېښور نه چاپ شوی دی . چاپ کال نۀ لري . د کتاب شروع کښې مولانا عبدالمستعان د شاه جهان مختصر تعارف کړی دی . دې کتاب کښې حمد ، نعتونه ، نظمونه ، رباعيانې او مصرعې دي يوه مرثيه ئې د يو ملګري په غم ليکلې ده او منقبت کښې ئې عبدالقادر جيلاني رحمة الله عليه ستائيلی دی . موضوعات ئې اخلاقي ، اصلاحي او عشقي حقيقي دي . دلته ئې څو اصلاحي شعرونه وړاندې کولی شي :

نن سبا چې ښادي، ځومره چرته کېږي
ډمامې به پکښې خوا مخوا غږېږي
په کوم کور کښې چې آواز د ډمامو وي
د الله لعنت په هغه کور ورېږي (26)

(۱۵) **د کجورې ؤنه** : شاه جهان بله شعري مجموعه " د کجورې ؤنه " په نومبر ۱۹۷۰ء کښې پېښور منظورِ عام پرېس نه چاپ شوې ده۔ دې کتاب کښې حمد ، نعتونه او نظمونه دي يوه چاربېته او يوه بدله کښې د حضرت يونس عليه السلام د مهي واقعه ذکر شوې ده۔ او چاربېته کښې اخلاقي او اصلاحي وينا شوې ده۔ د کتاب موضوعات مذهبي ، اخلاقي او سياسي دي۔ دلته د چاربېتې يوه کړۍ وړاندې کولی شي :

خوشحاله هېڅوک نشته هر طرف ته ډېر غمونه دي
غريبو نه زيات ګوره د مالدارو فريادونه دي
چې چرته غريب پرېوتۀ بې غمه به خوبونه کړي
خوب مالدار له نۀ ورځي تمامه شپه فکرونه کړي
هم ئې د سر غم وي هم د مال به تل غمونه کړي
هم د پوزيشن ساتلو زړۀ کښې به خيالونه کړي
غم کښې پرې غم راشي زما دغه بيانونه دي
غريبو نه زيات ګوره د مالدارو فريادونه دي (27)

(۱۶) **د صبر خواږۀ** :د شاه جهان بل منظوم کتاب " د صبر خواږۀ " منظورِ عام پرېس پېښور نه شائع شوی دی۔ چاپ کال نۀ لري۔ دې کتاب کښې هم حمد ، نعتونه، رباعيانې اونظمونه دي۔ يوه چاربېته اويوه قيصه د بدلې په شکل کښې بيان شوې ده ، قيصه او چاربېته دواړو کښې د حضرت محمد صلی الله عليه وسلم د اخلاقو ستائېنه شوې ده۔ موضوعات ئې د نورو په شان مذهبي،اخلاقي او اصلاحي دي۔ برنو کرښو کښې ذکر شوی دی چې د شاعرۍ رنګ ئې اولسي دی۔ د اولسي شاعرۍ خاصه دا وي چې عام او نالوستي وګړي پرې هم په ډېره آسانه پوهېږي او زباني ورته ياده شي۔ د شاه جهان د شاعرۍ کمال هم دا دی چې ډېرو ته په يادو هم ياده ده۔ د پښتونخوا ګوټ ګوټ ته د هغوی د شاعرۍ آواز رسېدلی دی

په احمق د نصيحت کله اثر شي
کۀ وعظونه ورته تل شام و سحر شي
د عالم خبرې هله به درياد شي
چې دې کوم وختې تالو ژبې له ورشي (28)

(۱۷) **د ژمي نمر**:

دا کتاب هم پېښور منظورِ عام پرېس نه چاپ شوی دی. د چاپ کال نهٔ لري. دغه منظوم کتاب شاه جهان د خپل شاګرد غلام محی الدین په نامه چاپ کړی دی. په دغه مجموعه کښې څلور کلامونه د محی الدین دي او نور د شاه جهان دي. د نورو کتابونو په شان دې کښې هم نعتونه او رباعیانې دي. موضوع ئې مذهبي، اخلاقي او اصلاحي ده. شاعر د خپلې معاشرې ترجمان وي، شاعر د قام سترګې ګڼلی شي. دې چې کومې ستونزې وېني هغه نورو ته په ډاګه کوي هم او اصلاح ئې هم کوي:

نن د هغه چا عزت وي چې مالدار وي
یا چې وي سخت جوارګر یا زِنا کار وي
چې عزت پکښې د مشر کشر نهٔ وي
د هغه بنده به هر څوک تابعدار وي
بې حیا چې شي وائي دا عجیبه ځوان دی
وائي دهٔ په شان به چرته ایمان دار وي (29)

شاه جهان چې کوم دور کښې ژوند کولو ځان ځاني، کرکې او تربګنۍ عام وې. قامي مشر انو هم کمي وو داسې څوک نهٔ وهٔ چې د قام په کچکول کښې ئې د هغوي خبر غوښتې وې او د ژوند ښائسته کولو او د امن و محبت فکر ئې کړی وې. دې وجې نه شاه جهان دغې طرفته ګویانه شوی دی وائي چې:

ربه نن بې اتفاقه مسلمان شهٔ
د یو بل مرګ پسې ګرځي کار ئې وران شهٔ
نن د قام اصلاح د پاره مشر نشته
هر بنده مطلب پرسته په جهان شهٔ
د حاجت په وخت کښې به خله درته خوږه کړي
داسې خلق وینم زهٔ دا مې بیان شهٔ (30)

(۱۸) **اعانت الاموات بالصدقات والخیرات**:

دا د شاه جهان نثري کتاب دی، ما تر خپله وسه ډېر ه هڅه ؤکړه خو دغه کتاب مې تر لاسه نهٔ کړې شهٔ. دهغوي د شاګردانو د وینا مطابق دغه تصنیف کښې د مرګ او صدقې او نور مذهبي مسائلو ذکر شوی دی.

## حوالې

(1) ګل اسلام ، دوه میاشتېزه مجله وطن ، پېښور ، جلد ۳ ، ګڼه ۹ ، جنوري ، فروري ۲۰۰۹ء ، مخ ۱۷

(2) جدون ، ضیاء الله خان ، تاریخ وادئ ګدون ، ۲۰۱۰ء ، مخ ۱۹۵

(3) د مردان شخصیات ، دوه میاشتېزه کتابي سلسله ، مردان ، خپروندیه ټولنه ، یولسمه کړۍ ، جولائي ، اګست ۲۰۱۵ ء ، مخ ۲۰۷

(4) ګل اسلام ، دوه میاشتېزه مجله وطن ، مخ ۱۷

(5) شاه جهان ، سوی ارمان ،پېښور ، منظورِ عام پرېس ، ۱۹۶۳ء ، مخ ۶

(6) شاه جهان ، اصلاح المسلمین ، پېښور ، منظورِ عام پرېس ، ۵ مئي ۱۹۶۶ء ، مخ ۹

(7) شاه جهان ، عمیق البیان ، پېښور ، منظورِ عام پرېس ، ۵ ستمبر ۱۹۶۹ء ، مخ ۱۹

(8) هم دغه اثر ، مخ ۲۹

(9) شاه جهان ، جدیدالاوزان ، پېښور،منظورِ عام پرېس ، ایډیشن دوېم ، اکتوبر۱۹۷۰ء ، مخ ۲۸

(10) شاه جهان ، د حق آواز ، پېښور ، منظورِ عام پرېس ،۲۱ جون ۱۹۷۰ء ، مخ ۱۴

(11) شاه جهان ، خوږه مینه ، پېښور ، منظورِ عام پرېس ، جون ۱۹۷۱ء ، مخ ۲۵

(12) هم دغه اثر ، مخ ۱۹

(13) هم دغه اثر ، مخ ۲۹

(14) هم دغه اثر ، مخ ۱۸ ، ۱۹

(15) شاه جهان ، جمالِ محمدي ، پېښور ، منظورِ عام پرېس ، جون ۱۹۷۲ء ، مخ ۳۲

(16) شاه جهان ، انجامِ عشق ، پېښور ، منظورِ عام پرېس ، اګست ۱۹۷۲ء ، مخ ۵

(17) شاه جهان ، عجیبه شاعر ، پېښور ، منظورِ عام پرېس ، اکتوبر ۱۹۷۴ء ، مخ ۷

(18) شاه جهان ، ننداره ، پېښور ، غني سنز پرنټرز ، جون ۱۹۷۵ء ، مخ ۲۷

(19) شاه جهان ، صفت الحبیب ، پېښور ، حمدیه پرېس ، جولائي ۱۹۷۷ء ، مخ ۳۰

(20) هم دغه اثر ، مخ ۷

(21) هم دغه اثر ، مخ ۵

(22) هم دغه اثر ، مخ ۸

(23) شاه جهان ، د صبر توره ، پېښور ، منظورِ عام پرېس ، چاپ کال نۀ لري ، مخ ۹

(24) هم دغه اثر ، مخ ۱۳

(25) شاه جهان ، د صداقت اعلان ، پېښور ، منظورِ عام پرېس ، چاپ کال نۀ لري ، مخ ۱۰

(26) شاه جهان ، ګلزار ، پېښور ، منظورِ عام پرېس ، چاپ کال نۀ لري ، مخ ۱۴

(27) شاه جهان ، د کجورۍ ؤنه ، پېښور ، منظورِ عام پرېس ، نومبر ۱۹۷۰ء ، مخ ۲۷ ، ۲۸

(28) شاه جهان ، د صبر خوارۀ ، پېښور ، منظورِ عام پرېس ، چاپ کال نۀ لري ، مخ ۳۰ ، ۳۱

(29) شاه جهان ، غلام محی الدین ، د ژمي نمر ، پېښور ،منظورِ عام پرېس ، چاپ کال نۀ لري ، مخ ۶

(30) همدغه اثر، مخ ۱۳